*څېړنپوه محمد آصف احمدزی*[i]

**د حمید بابا په شاعري کې د اسلامي ارزښتونو انځور**

**The depiction of Islamic values in Hamid Baba's poetry**

**Professor Mohammad Asif Ahmadzai**

**Abstract:**

Abdul Hamid Momand is one of the most famous and powerful poets of Pashto literature, who has given a special color, depth, and beauty to the Pashto language and literature with his deep and rich poems. This poet has explored various subjects in his poetry, but most of his work is devoted to poetic and emotional (lyric) poetry.

Although his poetry is very romantic in nature, the influences of the Holy Quran and Hadiths are also evident. In the light of these Islamic sacred texts, he has written poems that have both a religious message and moral and social values.

Till now, there has been no comprehensive and in-depth study of Hamid Baba's religious, sermonic, and mystical thoughts. This article is designed to fill this gap and attempt to explore his religious tendencies to some extent.

This study reveals that Hamid Baba is not only a poet of poetic eloquence, but also has a deep love for the principles of the holy religion of Islam and Sharia, and he has conveyed these principles to the people through the language of poetry.

It also appears that he had a good knowledge and understanding of the Holy Quran, Hadiths, Islamic jurisprudence, and the biography of the Prophet (peace and blessings of Allah be upon him). Due to this intellectual and spiritual influence, he has sometimes expressed religious, social, and moral issues in the language of poetry.

**Key Words:**

Abdul Hamid Momand, poems, Holy Quran, Hadiths.

**لنډیز**

عبدالحمید مومند د پښتو ادب له هغو نومیالیو او پیاوړو شاعرانو څخه دی چې په خپلو ژورو او بډایو شعرونو یې پښتو ژبې او ادب ته ځانګړی رنګ، ژورتیا او ښکلا بښلې ده. نوموړي شاعر په خپل کلام کې د بېلابېلو مضمونونو ازموینه کړې، خو تر ټولو ډېره برخه یې تغزلي او وجداني (لیریکي) شعرونو ته ځانګړې ده.

سره له دې چې د هغه شاعري ډېره روماني بڼه لري، خو د قرآن کریم او نبوي احادیثو تأثیرات هم په کې ځرګند دي. ده د همدې اسلامي مقدساتو په رڼا کې داسې شعرونه ویلي، چې هم دیني پیغام لري او هم اخلاقي او ټولنیز ارزښتونه رانغاړي.

تراوسه د حمید بابا د دیني، وعظي او عرفاني افکارو په اړه هر اړخیزه او ژوره څېړنه نه ده شوې. دا لیکنه د همدې تشې د ډکولو لپاره ترتیب شوې او هڅه شوې چې د نوموړي دیني تمایلات تر یوه حده وڅېړل شي.

په دې څېړنه کې دا ځرګندیږي چې حمید بابا یوازې د رندانه شاعرۍ شاعر نه دی، بلکې د اسلام د مقدس دین او شریعت له اساساتو سره ژوره مینه لري او دغه اساسات یې د شعر په ژبه تر خلکو رسولي دي.

همدارنګه ښکاري چې نوموړی د قرآن کریم، نبوي احادیثو، اسلامي فقهي او سیرت النبي صلی الله علیه وسلم په برخو کې ښه درایت او پوهه لرله. د همدې د علمي او روحي تأثر له امله، ده کله ناکله دیني، ټولنیز او اخلاقي مسائل د شعر په ژبه بیان کړي دي.

---

[i] د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیټوټ علمي غړی.

**پوښتنې:**

۱- حميد بابا د «ملا» يا ديني عالم لقب ځنګه ګټلی دی؟
۲- حميد مومند ځيني اشعار د قرآن کريم د کومو آيتونو په تأثر کې کړې ده؟
۳- موشګاف شاعر خپله شاعري د کومو احاديثو په تأثر کې کړې ده؟
۴- عبدالحميد د اسلامي ادب په پراختيا او بداينه څومره ونډه لرلې ده؟

**ميتود**

په دې ليکنه کې له تشريحي او مقايسي ميتود څخه استفاده شوې ده.

**د مقالې متن**

د پښتو ادب دويمه دوره ـ د لسمي هجري پېړۍ له اواسطو د خوارلسمي هجري پېړۍ تر لومړيو دوو-دريو لسيزو پورې ـــ هغه دوره ده چې زموږ د فرهنګ، ژبې او ادب بدايه زېرمه په کې ايجاد شوې ده چې له دغو زېرمو څخه يوه هم د نازکخياله شـــاعر عبدالحميد مومند آثار او پنځونې دي؛ له بل لوري د پښتو ژبې او ادب ځولۍ چې له بېلا بېلو موضوعاتو او مفاهيمو ډکه ده، يوه په کې د ديني مسايلو غوښنه برخه ده. زموږ د ډېرو په تېره د پښتو ادب د دويمې ادبي دورې د شاعرانو د پنځونو منځپانګه د اسلامي شريعت مطالب، ديني مسايل، وعظ، نصيحت او عرفاني تعبيرونه جوړوي. په همدې کتار کې د مبتکر، نوښتګر او د پښتو ادب د مخکښ شاعر عبدالحميد مومند نوم هم د درناوي وړ مقام لري، سره له دې چې دی د رندانه او شوخي شاعرۍ له مخې ځانګړې شهرت لري، خو د هغه د شعرونو له منځپانګې او فکري ژوروالي څخه ځرګنديږي چې نوموړی يو ديني عالم هم و.

هغه په قرآن کريم، احاديثو، فقهي او سيرت النبی صلی الله عليه وسلم کې ژوره پوهه لرله او له همدې امله يې په آثارو کې ځای ځای د آيتونو، احاديثو، فقهي مسايلو او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د سيرت مسايل ځلېږي.

عبدالحميد مومند چې د زېږېدو نېټه يې ۱۰۸۰هـ. ق کال اټکل شوې ده، دغه آثار لري:

۱- ديوان: تر لس وارو پورې چاپ شوی دی.
۲- شاه ګدا: په ۱۱۳۸ کې يې دا کيسه چې دمخه هلالي په پارسي ليکلې وه، حميد په پښتو ترجمه کړې ده. دا منظومه درې وارې چاپ شوې ده؛
۳- عبدالحميد د مولانا غنيمت د (نيرنګ عشق) مثنوي او د عزيز او شاهد کيسه له پارسي څخه په پښتو ترجمه کړې چې دا دواړه آثار په پېښور کې طبع شوي دي. نيرنګ عشق پنځه وارې چاپ شوی دی.

د يادولو ده چې د حميد بشير کليات (ديوان، نيرنګ عشق، قصه شاه و ګدا) د محمد آصف صميم په سريزه او زيار د دانش خپرندويې ټولنې له خوا دوه ځله په ۱۳۸۳ل (۲۰۰۴م) او ۱۳۸۶ل (۲۰۰۷م) کلونو کې چاپ شوی دی.

۴- د حميد وروستی موندل شوی اثر «شرعة الاسلام» دی. دا د مثنوي په فورم کې منظوم شوی اثر د دوست شينواري په زيار په ۱۳۶۶ل کال په کابل کې چاپ شوی او موضوع يې فقه ده[1]، بل چاپ يې د عبدالکريم عامر په زيار په ۲۰۱۹م کې خپور شوی دی.

دې موشګاف شاعر په کوچنيوالي کې د ديني علومو زده کړې کړې، دغه علوم يې ښه زده کړل او په الهياتو کې د لوی لاس ښځتن شو. دی چې کله شهرت ته ورسېد، نو له شاوخوا ځايونو نه شاګردان ورباندې رامات شول او تدريس يې جاري شو[2]. څرنګه چې د حميد مومند اشعار پېچلي دي، ساده او عام فهمه نه دي، نو ځکه يې په اولس کې د عبدالرحمن په اندازه شهرت نه دی پيدا کړی، خو سره د دې ورته

د درناوي په خاطر بابا وایو. په داسې حال کې چې رحمان او حمید همعصره او همځولي دي، دوی په خپلو شعرونو کې یو بل نه یادوي، مګر داسې یو روایت شته چې کله رحمان بابا ته د عبدالحمید شعرونه ور ورسېدل، نو دی یې خپل ځان ته ور وغوښت او مذاکرې یې ورسره وکړې. د عبدالحمید تواضع او استعداد د رحمان بابا دومره خوښ شو چې بېخي یې مرهون وګرځېد او د خیر دعاء یې ورته وکړه او له خدای جل‌جلاله نه یې وغوښتل چې د حمید شعرونه د خلکو خوښ شي او د هیچا شعر وربانديې ترجیح او فضیلت پیدا نه کاندي[3].

په دې څېړنه کې د پښتو ژبې دغه نامتو شخصیت چې د هرې دیني او شرعي موضوع په تړاو ملغلرلي پېیلي، هغه مو په قرآن‌کریم او نبوي احادیثو کې پلټلې چې د همدې تأثر په بنا نوموړي په خپله شاعرۍ کې د کلام الله او نبوي سنتو خیال ساتلی او په هغه سره یې خپل کلام مستند او باوري کړی دی. د شاعري دا اړخ یې له قرآن‌کریم او احادیثو څخه هم په مستقیم ډول او هم اشارتاً یا نامستقیم ډول کړی دی.

په دې لیکنه کې د لوستونکي د توجه جلبولو او د مسایلو د ښه اغېز په پار هر مطلب تر ځنګزن عنوان لاندې څېړل شوی دی چې لاندې هر یوه ته ځغلنده کتنه کوو.

## د الله تعالی ذکر

الله تعالی په خپل کلام کې خو ځایه مسلمان ته د هغه د دنیوي او اخروي ګټو لپاره پر ذکر کولو ټینګار کړی دی، لکه چې فرمایي: {فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ}[البقرة: ١٥٢]؛ (نو ما یاد کړئ (په اطاعت او عبادت) چې زه (هم) تاسې یاد کړم)؛ {اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا} [الأحزاب: 41]؛ (الله په ډېر ډېر یادولو سره یادوئ). دغه راز په یوه حدیث شریف کې راځي: {أَنَّ أَعْرَابِيًّا قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- إِنَّ شَرَائِعَ الإِسْلاَمِ قَدْ كَثُرَتْ عَلَىَّ فَأَنْبِئْنِى مِنْهَا بِشَىْءٍ أَتَشَبَّثُ بِهِ. قَالَ: لاَ يَزَالُ لِسَانُكَ رَطْبًا مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ}؛ یعني: (یو اعرابي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل چې د اسلام شرائع رابانديې زیات شول، داسې یو څه را وښیه چې هغه تل کوم: ورته یې وویل: همېشه خپله ژبه د الله تعالی په ذکر مرطوبه ساته). حمید مومند همدا مفهوم په لاندې بیت کې ځای کړی دی:

هر نفس د خدای په یادو اولی تر دی
بې اوبو ژوندګي کله شي د کب[4]

لکه څنګه چې کب بې اوبو ژوندی نه شي پاتې کېدلی، نو مسلمان هم باید خپله ژبه هر وخت د الله تعالی په ذکر او یاد لمده وساتي.

## توبه وېستل

انسان له ګناهونو خوندي نه دی، خو الله تعالی د هغه لپاره د توبې دروازه تل پرانیستې پرېښې ده، البته په دې شرط چې له کړې ګناه څخه توبه وکړي او پوخ عزم ولري چې بیا به یې نه تکراروي؛ که یې له زړه توبه ووېسته، خدای جل‌جلاله مهربانه دی چې له کړې ګناه یې ور تېر شي. الله تعالی فرمایي: {أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللَّهِ تَوْبَةً نَصُوحًا عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُكَفِّرَ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ}[التحريم: 8]؛ یعني: (ای مؤمنانو، الله ته توبه وکړئ، د زړه له کومې (او له پښېمانۍ نه ډکه) توبه، ګوندې الله ستاسې څخه ستاسې ګناهونه ورژوي او تاسې ته په داسې باغونو کې ځای درکړي چې د هغوی (تر ونو) لاندې ویالې بهېږي). زموږ دغه ستر شاعر هم انسان متوجه کړی، مخکې تر دې چې سبا پښېمانه شي، نن وار ړومبی کړه او له ټولو ګناهونو لاس په سر شه، وایي:

نن ساعت تا لره هسې مناسب دي
هی توبه کړه له تمامه معصیته...
چې سبا په خپلو بدو پښېمانېږی

ولې نن پښېمانه نه شې له غيرته[5]

**له نفس پالنې ډډه کول**

داناپان له دښمنانو سلا نه کا
ته په څه کوې د نفس شيطان سلا
پرورش د نفس په کار نه دی حميده!
له دښمنه سره څوک نه کا تولا[6]

په دې بيتونو کې حميد بابا انسان متوجه کړی چې هيڅکله د خپل ازلي دښمن (شيطان) ونه مني، ځکه دا معقوله نه ده چې څوک دې له خپل دښمن سره سلا مشوره وکړي او يا دې د هغه خبرو او اوامرو ته غاړه کېږدي. الله تعالی په خپل سـپېڅلي کتاب کې څو ځله همدغه مطلب بيان کړی، فرمايي: {الشَّـيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُم بِالْفَحْشَـاءِ وَاللَّهُ يَعِدُكُم مَّغْفِرَةً مِّنْهُ وَفَضْـلًا}[البقرة: 268]؛ (شـيطان تاسـې ته د خوارۍ ژمنه درکوي او پر ناوړه (کارونو) درته امر کوي، خو الله تاســې ته د خپلې بخښــنې او فضــل ژمنه درکوي).

مومند بابا دغه راز زياتوي:

د هر چا چې شي مفتي نفس و هوا
ناروا شي د جهان ورته روا
نفس شيطان چې د چا بد تر فهمه نه کا
هسې خوري زهرِ قاتل لکه حلوا[7]
* * *
کوڼ او ړوند کړي هسې رنګ د نس هوا
چې لري سره روا او ناروا
شوخ بې شرمه کړلي حرص تر هسې حده
چې نه شرم کړي له خدايه نه پروا
چې د نس په زېرمه خدای درځخه هېر شه
دا له چا شوې وابسته له چا سوا[8]

په دې بيتونو کې نفس و هوا د انسـان په زيان بلل شـوي ځکه ناروا څيزونو ورته روا کوي او نفس او شيطان انسان ته بد نښه کوي. دغه‌راز په ورپسې شعر کې يې انسان د خواهشاتو له نه منلو او له حرص څخه ځان سـاتلو ته رابللی دی. له رسـول الله صـلی الله عليه وسلم څخه روايت دی چې وايي: {الكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ، وَعَمِلَ لِما بَعْدَ الْمَوْتِ، وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَه هَواهَا، وتمَنَّى عَلَى اللَّهِ[9]}؛ (هوښيار هغه دی چې له ځان سره محاسبه کوي او د آخرت لپاره کار کوي او کمزوری هغه دی چې د خپل نفس مني او له الله امېد لري).

عبدالحميد مومند نفس او خپلو هوسونو ته د تابع کېدلو پر ضـد دی. دی (نفس) د دښـنه په څېر بولي او وايي چې له دښـــنه ســـره مينه لرل هيڅ په کار نه ده، نو له همدې امله بايد (نفس) ونه روزل شـــي[10]. عبدالحميد مومند حرص‌کوونکو ته چې د حرص په کولو دومره شـوخ او بې‌پروا شـوی اوسـي چې خدای يې هم هېر کړی دی، لارښـوونه کوي چې که د حرص په پلوې څوک د خزانو څښـتن شـي، بيا هم د يوه ګدا په څېر برېښــي. په پای کې خبرتيا ورکوي چې حرص به دربانډې داســې کاني وکړي چې په هيڅا شوې نه وې، بيا به نو پښېماني او لاسونه مروړل څه ګټه درته ونه کړي[11].

همدارنګه يو بل ځای وايي چې د نفس او نس لرې لرې خبرې منل هم ســـمې نه دي، نس يې له غلې مېرمنې سره تشبيه کړی دی:

لړ لړ بنه هم مناسب له نس سره نه دي
غله مېرمن کاندې ځان موړ په څکه څکه[12]

دغه راز کاږي:

درسته ورځ د دنیا چار په جمع زړه کړي
لږ عمل ادا کوي په ډېر وسواس
لکه وخوري په شکرو کې خوګ زهر
هسې ته له دین بې دینه کړي خناس[13]

په دې بیتونو کې حمید بابا انســـان مســـتقیم مخاطب کوي چې اغیز یې زیات شـــي، ورته وايي د دنیا چارې په ډاډه زړه کوې، خو په دیني چارو کې بیا شکونه کوي او د وسوسو ښکار کېږي. د قرآنکریم په وروستي سورت کې همدغه مطلب بیان شوی چې فرمايي: {قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ مَلِكِ النَّاسِ إِلَهِ النَّاسِ مِنْ شَـرِّ الْوَسْـوَاسِ الْخَنَّاسِ الَّذِي يُوَسْـوِسُ فِي صُـدُورِ النَّاسِ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ}[الناس: ۱- ۶]؛ (ووایه: د خلکو رب ته پناه ور وړم. د خلکو پاچا ته. د خلکو (حقیقي) معبود ته. د وسوسه کوونکي له شره چې وار، وار ځي راځي. هغه چې د خلکو په زړونو کې وســـوســـه اچوي، هغه که له پېریانو څخه وي او (یا) له انسانانو).

دغه راز کاږي:

چې د نس په خصمانه دین و ایمان خوري
بېهوده د سپي په خوله خوان و الوان خوري
چوهاړي[i] سګ پروري دا هومره نه کا
لکه ته د نس په زېرمه ګرځې ځان خوري[14]

د قرآن کریم د یوه آیت یوه برخه داســـې ده: {وَلَوْ شِـــئْنَا لَرَفَعْنَاهُ بِهَا وَلَكِنَّهُ أَخْلَدَ إِلَى الْأَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوَاهُ فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ}[الأعراف: ۱۷۶]؛ (که موږ غوښـــتلای هغه به مو هرومرو د هغو (آیتونو) په وسیله پورته کړی وای خو هغه په ځمکه کې ورښـکته شـو او د خپل نفس (د غوښتنو) پیروي یې وکړه. د هغه مثال د سپي دی چې که یرغل پرې ور وړې (هم) ژبه راباسي او غاپي او که پرې یې ږدې (بیا هم) ژبه راباسي او غاپي). د اکثرو مفسرینو په نزد دغه آیت د یهودي عالم «بلعم بن باعوراء» په حق کې نازل شـــوی و، نوموړي د الله تعالی آیتونه او هدایات پرېښـــودل او د دولت د طمعې په تعقیب د موسی علیه السلام په وړاندې د خپلو ناوړو تدابیرو په کارولو بوخت شو. موسی علیه السلام ته یې هېڅ زیان ونه رسېد، خو بلعم د تل لپاره مردود شو،[15]. که دغه حکم د همدې شخص په اړه دی، خو د قرآن کریم د آیتونو حکمونه عام دي چې هر چا ته متوجه دي.

مومند همداراز کاږي:

فرشتې د سپي له بویه بېرته ګرځي
باري تا رقیب د ځان سره خمسور[ii] کا[16]

په دې بیت کې یې له خپل محبوب څخه ګیله کړې چې د غماز اوري او له همدې امله یې هغه له سـپي سره تشبیه کړی دی. شاعر همدغه احساس او تعبیر له دې نبوي ملغلرې څخه اخیستی چې د سپي بد په کې بیان شوي دي: {لا تدخُلُ الملائِكَةُ بيتًا فيهِ كلبٌ ولا صورَةٌ}؛(پرښـتې هغه کور ته نه داخلیږي کوم چې سپي او عکس وي).

### د مظلوم حمایت او د ظالم غندنه

د حمید مومند له اشـعارو څخه جوتیږي چې د ده په وخت کې ټولنه د متضـادو پوړونو لرونکي وه، نو همدا سـبب و چې ده یې د پخلا کېدو لپاره له نصـــایحو څخه کار اخیســـت. زورور پوړ ته یې د هغوی د خصـــلتونو بد ویل، همدارنګه زورور پوړ یې تر تېرې لاندې وګرو له ځوره خبراوه. له بلې خوا یې

i ناپاک، مُردار خور، ناولی، ګنده، بنګي، تور، بدرنګ.
ii جفت، جوړه، ملګری.

کمزوری پوړ داسې خصلتونو ته باله چې د زورور له اغېزو څخه وربانديې يوه اندازه ژغورلی شوی اوسي، لکه صبر او قناعت. عبدالحميد مومند که څه هم په خپلو اشعارو کې د مظلوم له څور څخه ظالم ته اخطار ورکاوه، خو په حقيقت کې يې مظلومان خپل زور ته متوجه کول[17].

ظلم له انسانيت نه وتلې چاره ده او همدا ده چې د مظلوم آه او فرياد الله تعالی مستقيم اوري. د پښتو ژبې نوښتګر شاعر حميد مومند په لاندنيو شعرونو کې همدا موضوع په ښکلا ښېلو الفاظو کې څرګنده کړې ده. وايي چې د مظلوم فرياد مستقيماً الله تعالی اوري؛ که د ښار يوه وړه کوډۍ په ظلم ودانه شوې وي، ټول ښار ورسره بربادېږي؛ نن دې که په کمزوري لاس بر دی، همدغه زور به دې سبا نه وي؛ او که زر خولې ستا په اړه دعاء کوي، نو د يوه آزار مخه نه شي نيولی:

درسته شپه چې مظلومان آهونه زور کا
سحر پورې د فلک په لمن اور کا
که هر څو يې لوغړن د آه په اور کړي
څوک به خوی له کج روی د فلک نور کا[18]
* * *
د مظلوم د ازار غشی رسا لګي
هيڅ ګوزار يې خطا نه درومي عبس[i]
هر سرې چې له آزاره بازار غواړي
د دارو په طمع زهر خوري ناکس[19]
* * *
چې يوه کوډۍ د ظلم په کې ودرې
په شوميت يې ښهر وران شي چم په چم
د ظالم د ودانۍ مخ په ورانۍ دی
دا خبر دی په جهان کې مسلم
دا چې ازمېې ته زور نن په کمزوري
دغه زور به شي سبا درڅخه زوم[20]
* * *
خدای دې نه کا چاته وازې د آزار خولې
دغه خولې دي په معنا کې د ښامار خولې..
د يوې خولې له آزاره ووېرېږه
که په عمر دې دعا کاندي هزار خولې[21]
* * *
د مظلوم آه او آزار و چا ته مه شه
عالمونه يې ورانيږي له ارخښه
د مظلوم آزار خالي نه ځي حميده
د ويشتوني ګوزار پاس لګي په نخښه[22]

رسول الله صلی عليه وسلم هم خپل امت ته دا پيغام ورکړی چې د مظلوم له ازاره ځان وژغورئ ځکه د هغه او الله ترمنځ پرده نشته. فرمايي: {اتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ فَإِنَّهُ لَيسَ بَيْنَهُ (فَإِنَّهَا لَيْسَ بَيْنَهَا) وَبَيْنَ اللهِ

---

i «عبس» د تېندې ترېو کېدلو ته وايي خو له دې به د شاعر مراد «عبث» يعني: (بېهوده، بې فايده) وي. چې شاعر د قافيې مراعتولو لپاره د (ث) پر ځای (س) کارولی دی. د «قافيه پوهنه» اثر ليکوال محمدا جان حقپال وايي: د دې غزل د قافيې کلمې په (س) توري پای مومی او همدغه يې روي دی، څنګه چې په روي کې بدلون ليدل کېږي خو پښتانه دواړه توري قريب المخرجه اداء کوي چې دې ډول تغيير ته اجازه وايي؛ خو «د خوشال خټک اشعار د قافيې، فورم او بديعي ښکلا له نظره» اثر ليکوال عبدالظاهر شکيب بيا څرګندوي چې دغه اجازه د ديواني شاعرانو په اشعارو کې عيب او د ولسي شاعرانو په اشعارو کې عيب نه دی.

حِجَابٌ[23]}؛ (د مظلوم له ښېرا ښخه ځان وساتئ، ځکه چې د هغه او الله تعالی ترمنځ هیڅ پرده نشته)، یعني د مظلوم دعاء مستقیماً قبلیږي.

عبدالحمید مومند د ظالم خصلتونه غندلي، ژر تېرېدونکي یې ګڼلي، لاربښوونه یې ورته کړې چې له خپلو هغو بدو کړو ښخه لاس واخلي چې د ټولنې سمه او ښکلې مانۍ ورانوي. ټولنیز خوږ او د مینې ډک ژوند تریخوي او دوستي په دښمني اړوي. همدارنګه یې ظالم ته خبرداری ورکړی چې په خپلو کړو او ناوړو خصلتونو باندې کتنه وکړي، که نه نو بدو راتلونکو ته یې باید پرته له کومه شکه په انتظار کې واوسي[24].

**د دنیا غندنه**

چې حمید په کې خندا کا ریشخندي کا
ځای د غم او د ژړا ده دا دنیا[25]

په پورتني بیت کې حمید مومند په خپل ځان انتقاد کوي چې په دې دنیا کې خنداګاني کوې، په داسې حال کې چې دا نړۍ د غم او ژړا ځای دی. الله تعالی په خپل کلام کې هم وایي چې تاسو په دې دنیا کې خاندئ خو ژاړئ نه، لکه چې فرمايي: {وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ}[النجم: 60]؛ (او خاندئ او نه ژاړئ).

که ظاهر ښکلې زیبا لیده شي څه شو
په باطن توره بلا ده دا دنیا[26]

په دې بیت کې په ډاګه شوې چې که دنیا په ظاهري شکل درته ښه ښکاري، خو په پټه توره بلا ده؛ الله تعالی په خپل کلام کې څو ځایه د د دې دنیا ژوند غندلی دی، فرمايي: {اِعْلَمُوا أَنَّمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ بَيْنَكُمْ وَتَكَاثُرٌ فِي الْأَمْوَالِ وَالْأَوْلَادِ}[الحدید: 20]؛ (په دې پوه شئ چې د دنیا ژوند ستاسې ترمنځ (د) لوبې او ساعت تېرۍ او د ښکاره ډول او سینګار او په خپلو منځونو کې یو پر بل وياړېدل او په مال او اولاد کې د یو پر بل د مخکې کېدو له هڅې پرته بل څه نه دی) یا {وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا مَتَاعُ الْغُرُورِ}[الحدید: 20]؛ (او د دنیا ژوند پرته له تېر ایستونکي سامانه بل څه نه دی).

الله تعالی بل ځای وایي: {أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ} البقرة: ۸۶]؛ (دا هغه کسان دي چې د دنیا ژوند یې د آخرت په بدل کې اخیستی دی. نه به دوی ښخه عذاب کم کړی شي او نه به له دوی سره مرسته وشي). حمید بابا هم د همدې آیت په تأثر کې وایي چې ناپوهان دین په دنیا ورکوي، په داسې حال کې چې پوه شخص دغسې معامله او داد و ګرفت نه کوي:

نادانان دین ورکوي دنیا پرې اخلي
دانا نه کا دا دادن دا ګرفتن[27]

* * *

هیڅ پروا د دین په کار نه کړې که وران شي
ای بې‌ننګه بې‌فرهنګ د دین رهزنه
لکه طفل در ګوهر په روټۍ پلورې
هسې ته کړې په دنیا د دین بازنه
ته چې مینه په دنیا کوې دین غواړې
تېروې عمر په تشه باد بېزنه[28]

الله تعالی په یوه بل ځای کې فرمايي: {وَمَا الْحَيَاةُ الدُّنْيَا إِلَّا لَعِبٌ وَلَهْوٌ وَلَلدَّارُ الْآخِرَةُ خَيْرٌ لِلَّذِينَ يَتَّقُونَ}[الأنعام: 32]؛ (او د نړۍ ژوند بې له لوبو او ساعت تېرۍ ښخه بل څه نه دی او بې‌شکه چې د ځان ساتونکو (متقیانو) لپاره د آخرت کور ډېر ښه دی).

همدا ډول حمید مومند په لاندې بیتونو کې د دنیا چارې لکه خوب بللي چې هیڅکله د چا مراد په کې نه حاصلیږي، هر څومره شخړې او جنجالونه چې په کې وکړې، له مرګ وروسته له ځان سره څه نه شي

وړی، ځکه آن د وخت واکمنان، لکه سکندر او دارا هم دې هیلې ته ونه رسېدل. وايي:

د دنیا هوا هوس د خوب لیده دي
چي خوب وړی شي را ویښ نه وي بیا هیڅ
هر سړی درومي تریخ خلق له دې جهان
پوره کړی یې مراد نه دی د چا هیڅ
که هر څو یې جنګ جدل په دنیا وکا
ځني یو نه وړه سکندر و دارا هیڅ[29]

د پښتو ادب دغه سرلاری وايي چې دنیاپرست خلک چې دین غواړي، دا ناشوني ده، ځکه د چا په زړه کې چې د دنیا مینه وي، په هغې کې د خدای مینه نه ځایېږي، د دې مثال داســـې دی لکه بوس چې غلبېلوي، وايي:

د دنیا مین چې دین غواړي پوچ وايي
بېهوده غلبېلوي سره تش بوس[30]
* * *
اور اوبه په یوځای نه جمع کېږي
چرته دین چرته دنیا کوتاه اندیشه[31]

د مسلمانانو په مقدس کتاب کې یادونه شوې چې تر دې دنیا هغه بله دنیا غوره ده، فرمايي: {بَلْ تُؤْثِرُونَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَى}[الاعلى: ۱۶- 17]؛ (خو تاسي د دغې نړۍ ژوند غوره کوئ. او په داسي حال کي چې آخرت تر هغې غوره او تلپاته دی).

### د حرام مال د خوړلو غندنه

مســـلمان ته نه ښـــايي چې د بل چا مال ته یې ســـترګې پټې وي، هغه ترې په زور، نیرنګ او چل وخوري؛ که دا کار یې وکړ، پایله به یې ناوړه وي. انسـان دوسـت شـخصـیت حمید بابا د پردیو مالونو د خوړلو او د هغه عاقبت مفهوم په لاندې بیتونو کې انځور کړی دی:

څو به خوری پردي مالونه په ستم
یوه ورځ به دې په نس کې شي اړم
د مظلوم د مال روټۍ خپله بوټۍ خوري
مه شه هیڅ په دا خوراک خوښ و خورم
ماته ستا حرام خوړګي هسې لیده شي
لکه څوک په مشت مندې مار و لړم
بې شبهې مار و لړم دي نور څه نه دي
راخکولي په ستم دام و درم
په حرامه دنیا ساز مه شه یو کار ستا
چې سل نور درڅخه وران کاندي برهم[32]

الله تعـالی د حرام مـال لـه خوړلو څخـه مســـلمـانـان منع کړي، فرمـايي: {لَا تَـأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ}[النساء: 29]: (په ناحقه سره خپلې شتمنۍ په خپلو منځونو کې مه خورئ». بل ځای په قرآن کریم کې راغلي: {وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ}. البقره: 188]. (او په خپلو منځو کې خپل مالونه په ناحقه سره مه خورئ».

### د الله تعالی په لار کې مال قربانول

اول ولوله آیت د «لن تنا»

هاله لاف د محبت کړه د آشنا
څو دې سر په تنه پورې مال په ځای دی
نشته ځای درکې هرګز د دې وینا[33]

پورتنیو بیتونو کې د آل عمران سورت (۹۲) آیت ته اشاره ده چې الله تعالی وایي: {لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ}[آل عمران: 92]؛ (له سره به تاسې د (پوره) ښېګڼې (درجه) ونه مومئ ترڅو چې له هغه شي څخه چې ستاسې خوښ وي (د الله په لار کې) خیرات ونه کړئ او هغه څه چې تاسې یې ورکوئ، بېشـکه چې الله پرې پوهېدونکی دی». مطلب دا دی چې که د اعلی درجې نېکي حاصلول غواړئ نو خپل ډېر ګران توکي او مالونه د الله تعالی په لار کې صدقه کړئ. حمید بابا هم وایي چې د خپل محبوب د محبت لافې وهې، نو خپل مال او آن خپل سـر په دې لاره کې قربان کړه، که دا کار نه کوې، خپل مقصود ته رسېدل ناشونی دی.

په پورتني بیت کې د «لن تنا» عبارت باریکۍ ته محمد آصف صمیم متوجه شوی وایي: «تَـنَالُوا» د نیل (رسیدل) له ریښې څخه د مخاطب جمع صیغه ده چې د ناصب عامل (لن) په واردېدو یې (ن) لوېدلی او د (تنالون) پر ځای (تنالوا) شـوی دی. د پښـت و ځېنو شـاعرانو ځانخبري (په لوی لاس) او یا هم په ناځانخبرۍ همدا (لن تنا) په همدې مبهمه او مخففه بڼه کارولې ده[34].

د استاد صمیم خبره دقیقه ده، خو یو څه ور اضافه کول په کار دي او هغه دا چې پښتنو شاعرانو (لکه، حمید مومند، یونس،کامګار ختک، مولوي محمد رفیق، سـمندر....) چې دا عبارت کارولی، موخه یې ښـایي هماغه قرآني آیت ته اشـاره وي چې په سـر کې یې (لَنْ تَنَالُوا) راځي او څلورمه پاره وربانديې پیلیږي، نه د ټول عبارت ((لَنْ تَنَالُوا)) له په پام کې نیولو.

## روزي رسان الله تعالی دی

هر بنده چې پیدا شـوی، خالق یې روزي هم رسـوي. الله تعالی فرمایي: {وَتَرْزُقُ مَنْ تَشَـاءُ بِغَيْرِ حِسَـابٍ}[آل عمران، 27]؛ (او هر هغه چاته چې وغواړې بېحسـابه روزي ورکوې». د پښـتو ژبې دغه متشـرع شـاعر ډاډ ورکوي چې د رزق رسـولو اندېښـنه نه ده په کار، ځکه چا چې هغه زوکړی دی، د روزي اسباب یې هم ورته برابر کړي دي، وایي:

په سبب د رزق دلګیر مه شه حمیده!
ولې شته هغه مسبب الاسباب[35]

## تر ښاروي بدتر انسان

انسـان الله تعالی تر ټولو غوره مخلوق پیدا کړی، خو دا ویاړ یواځې هغه وخت لري چې د شـریعت له اصـولو سـره سـم ژوند وکړي، که نه د هغه او د ښاروي فرق به نه وي، په همدې اړه د انسـاني اخلاقي علمبردار شاعر مومند کاږي:

مرتبه د سړي مه غواړه له خدایه
چې مشغول یې لکه ستور[i] په خورو خواب
ستور په یوې کې په کیل برابر درومي
ولې ته له شرعي کوږ ځې ناصواب
هر نفس چې بې د خدای له یادو نغري
ګڼه نغرې سرې سکروټې بې حساب
چې دې بې خواب وخوراکه نور څه نه زده
نور په کومه چار بهتر یې تر دواب[36]

i ستور (stwar): دکونترې هومره داني خوړونکې يوه تور رنګې مرغۍ ، (۲) غټ ښاروي.

الله تعالی هغه کسـان چي د شـرعي خلاف ژوند لري، فرمايي: {أُولَئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَـلُّ أُولَئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ}. الاعراف: 179]؛ (دوی د څارويو په څېر دي او تر هغو لا بد لار ورکي دي همدوی غافلان دي».

**له ځان سره محاسبه**

نوميالی حميد مومند انسـان او په تېره بيا مسـلمان دې ته متوجه کړی چي تل له ځان سـره د خپلو کړو وړو او وېناوو محاسبه ولري؛ يعني مخکي تر دې چي حساب درسره وشـي او د پښـېمانی اوښـکې تويې کړې، خپله صفايي همدلته په دې دنيا کې وکړه:

چي سبا د هغه کار په حساب نيو شي
صاف کړه نن له ځان سره هغه حساب[37]
* * *
چي سبا شوکوې زړيره پيوسته
ولي نن په زړيره لاس نه کړې ورسته[38]
چي سبا د مرګ تلخي او سختي ويني
نن دې څه رنګ ځي تر حلق خوږه پسته[39]
* * *
چي سبا دې ژړوي په اوښو وينو
نن بايده ده غم خورګي د هغه غم[40]

له عمر بن الخطاب رضـي الله عنه څخه روايت دی چي وايي: {حَاسِبُوا أَنفسَكم قَبلَ أن تُحَاسِبُوا وَتَزَينوا للعَرضِ الأَكبرِ وَإِنمَا يخَف الحِسَـاب يَوم القيَامَة عَلَى حَاسِـب نَفسِـه فِي الدُنيَا[41]}؛ (مخکي له دې چي حسـاب درسره وشي، له ځان سره حساب وکړئ او ځانونه د لويې ننداړې لپاره سنبال کړئ. د قيامت په ورځ به د هغه چا لپاره حساب اسانه وي چي په دې نړۍ کې له ځان سره حساب کوي».

**پر جسم نه غره کيدل**

مسـلمان که هر څومره ښــه خوراک وکړي او ښــه لباس واغوندي، خو صــالح اعمال او سـم عبادات ترسره نه کړي، دا متنوع خوراکونه او ښـايسته لباس يې د دوزخ له اوره نه شـي ژغورلی؛ نو څوک دې په خپل ځان نه غره کيږي، بلکې عبادتي اړخ دې غښـتلی کړي چي د اور خوراک نه شـي. د اسلامِ ستر پيغمبر محمد صــلی الله عليه وسـلم وايي: {إِنَّ اللَّهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى أَجْسَـادِكُمْ وَلَا إِلَى صُـوَرِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَشَـارَ بِأَصَـابِعِهِ إِلَى صَدْرِهِ[42]}؛ (الله سـتاسـو بدنونو او سـتاسـو شـکلونو ته نه ګوري، بلکې سـتاسـو زړونو ته ګوري او په خپلو ګوتو يې سينې ته اشاره وکړه». حميد مومند همدغه مفهوم په لاندې هنرمندانه الفاظو کې سره رانغښتی دی:

که ورسره کړې ښه خوراک ښه اغوستن
خلاص به نه کړې د دوزخ له اوره تن
څو دې تن په عبادت آراسته نه شي
غره مه شه د صورت په آراستن[43]

**تواضع**

حميد بابا تکبر غندلی او په خپلو شعرونو کې يې د تواضع ستاينه کړې ده، هغه په يو بيت کې مخاطب ته وايي:

تا چي تيز تېزه کمند د خودرايي

ما د ستا د پرېوتو هاله ارمان خوړ[44]

او په قدسي حديث کې راغلي دی، («قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي وَالْعَظَمَةُ إِزَارِي فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ[45]»؛ (الله تعالی فرمايلي: لويي زما څادر دی او عظمت زما لباس دی، څوک چې له ما سره د دې دواړو په اړه شخړه وکړي، زه به يې اور ته واچوم).

مخاطبينو ته د تکبر او ظلم چې يو له بل سره تړلي دي، د انجام په اړه څه ښه وايي:

سرکښان به په قيامت پاڅي سرکوزي

د ځنګل په مزل تيټ ځي له ناکام لوړ[46]

لکه څنګه چې تواضع د تکبر ضد عمل دی، نو خلک يې تواضع ته رابللي دي او په ډېره خوږه او پسته ژبه يې پوهولي چې سرلوړي په سرکوزی او خاکساری کې ده، هغه وايي:

کاميابي په سرکوزی سره مونده شي

د ښيښي د پاسه مه شه نيوه جام لوړ[47]

د حميد مومند د پورتني بيت دا مطلب هم کېدای شي، چا چې تواضع وکړه، الله تعالی به يې لوړو مرتبو ته ورسوي. همدا مطلب په دې حديث شريف کې بيان شوی چې: {مَنْ تَوَاضَعَ لِلَّهِ رَفَعَهُ اللَّهُ[48]}؛ (چا چې تواضع وکړه، الله تعالی به يې لوړ کړي».

**پر بل مسلمان لورينه**

زمونږ د خوږ پيغمبر ارشاد دی چې تر هغه پورې ستاسو ايمان بشپړ نه دی تر څو هغه څه چې د ځان لپاره خوښوې د بل ورور لپاره يې هم خوښ نه کړې: {لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ[49]}. ملا عبدالحميد همدا مفهوم په لاندې بيتونو کې په ډاګه کړی دی:

هغه مه پسنده په بل باندې انصاف کړه

چې يې نه پسندې په ځان باندې ماتم

چې په خپل صورت اغزی سهلی نه شي

بل ته ولې رسوې د تيغ الم[50]

* * *

د هغو په خونه پېښ جنګ و قتال شي

چې هوس د چا د جنګ و د قتال کا[51]

**آدم زاد د يوې ونې ښاخونه**

د ټولو انسانانو پيل له حضرت آدم عليه‌السلام څخه شوی دی، کله چې هغه پيدا شو او د هغه له پښتی نه بي‌بي حوا پيدا شوه، نو ورسره انساني لړی هم پيل او وغځېده. مطلب دا چې د ټولو انسانانو اصل يو دی، نو نه ښايي چې يو انسان پر بل ځان لوړ وګڼي. د انسانيت خواخوږی شاعر مومند بابا همدا مطلب په لاندې بيتونو کې څه ښه انځور کړی دی:

د يو تن اندامونه دي بې شکه

لوی هلک بني آدم په صورت سم

ته هم هيڅ له فرښتي زوکړی نه يې

چې چارپای بولي دا نور بني آدم

آدم زاد دي د يوې ونې ښاخونه

چرته د ښاخ زعفران شوي نور شرشم[52]

له دې څخه د بشر ټوله نوعه موخه او مطلب دی، ځکه چې آدم زاد په معنا واړه يو صورت دي. په يوه حديث شريف کې راځي چې رسول الله وفرمايل: {يَا أَيُّهَا النَّاسُ أَلَا إِنَّ رَبَّكُم

وَاحِد وَإِنَّ أَبَاكم وَاحِد لَا فَضلَ لِعَرَبِي عَلَى أَعجَمِي وَلَا لِعَجَمِي عَلَى عَرَبِي وَلَا لِأَحمَرَ عَلَى أَسوَدَ وَلَا أَسوَدَ عَلَى أَحمَرَ إِلَّا بِالتَّقوَا[53]}؛ (ای خلکو! رب مو یو دی او پلار مو یو دی، عربي په عجمي غوره‌والی نه لري او نه هم عجمي په عربي، نه ســـور په تور او نه تور په ســـور مګر په تقوا سره».

په یوه بل اوږد حدیث کې راځي، چې کله رسول الله مکه فتحه کړه، نو بیت ته ننوت، دوه رکعته لمونځ یې وکړ، بیا راووت، اوږد بیان یې وکړ چې په یوه برخه کې یې راغلي: {....كُلُّكُمْ لِآدَمَ، وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ، وَأَكْرَمُكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ....[54]}؛ (تاسو ټول له آدم څخه یاست او آدم له خاورې څخه و او له تاسو څخه د خدای په نزد تر ټولو عزتمند هغه څوک دی چې تر ټولو پرهېزګار وي».

**ښه بد او ملګري**

مبتکر شـاعر عبدالحمید مومند وګړي د ښـو خلکو ناسـتي ولاړې ته را بولي او له بدو یې منع کوي، ځکه ښـه، ښـه اغېزه لري او بد بده[55]. ده موږ دې ته متوجه کړي یو چې د بدانو پر ځای له نېکانو سـره ناسته پاسته تجربه شوې او ازمویل شوې مسأله ده، وایي:

تېز تأثیر لري تر ښو صحبت د بدو
دا خبره آزموده ده په بیا بیا[56]

* * *

چې دلي دې کېږي ناسته له بدانو
هوري مه غواړه د نېکو د رختن[57]

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه حدیث کې راغلي چې ښـه ملګری د عطر جوړوونکي په څېر دی، که هغه تاته زیان ونه رسـوي، نو د هغه خوږ بوی به تاته ورسـیږي؛ خو بد ملګری د آهنګر په څېر دی، که هغه تا په سـېرغیو ونه سـوځوي، نو د هغه بوی خو حتماً در رسـیږي. د حدیث متن داسـې دی: {إِنَّمَا مَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّـالِحِ وَالْجَلِيسِ السَّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيرِ فَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً[58]}؛ یعني: ( د نېک ملګري او بد ملګري مثال د مشک پلورونکي او آهنګر په څېر دی. د مشـک پلورونکی به یا تاسو ته یو څه درکړي یا به تاسـو ترې یو څه واخلئ یا به تاسـو ترې یو ښـه بوی وموموئ؛ آهنګر به یا ستاسـو جامې وسوځوي یا به تاسو ترې بد بوی وموموئ».

**د یوسف علیه السلام داستان**

یوسـف علیه‌السـلام د یعقوب علیه‌السـلام هغه نازولی ښـایسـته زوی و چې خپلو ورونو یې د رخې او حسادت له امله په څاه کې واچاوه، بیا یوه کاروان ته په لاس ورغی، خرڅ یې کړ، د مصر پاچا واخیسته. د پاچا مېرمنې ترې نامطلوبه غوښتنه وکړه، خو هغه رد کړه، هماغه و چې زنداني یې کړ. کلونه وروسته له زندانه ازاد او د پاچا په دربار کې د لوی مقام څښتن شو. حمید مومند وایي چې یوسف علیه‌السلام هغه مهال پاچاهۍ ته ورسېد چې ناخوالې یې ولیدې او د زمانې څپېړې یې وخوړې:

یوسف هاله شه لایق د بادشاهیې
چې یې وخوړې څپېړې د غضب[59]

حمید بابا هغه موضـوع بار بار یادوي چې د ده لاشـعور ته یې لاره کړې وي، همدغه مفهوم په یو بل بیت کې داسې څرګندوي:

د یوسف د مخ ډیوه شوه هاله بله
چې یې سور کړ په څپېړو برادر مخ[60]

د الله تعالی په سپېځلي کتاب کې د «یوسف» په نوم یو سورت موجود دی چې د هغه پورتنی حالت په کې په تفصیل سره بیان شوی دی او په پای کې چې یوسف له خپل پلار او کورنی سره یوځای کېږي، نو خپل پلار ته وايي: {يَا أَبَتِ هَـــــذَا تَأْوِيلُ رُؤْيَايَ مِن قَبْلُ قَدْ جَعَلَهَا رَبِّي حَقًّا وَقَدْ أَحْسَـنَ بَي إِذْ أَخْرَجَنِي مِنَ السِّجْنِ وَجَاء بِكُم مِّنَ الْبَدْوِ مِن بَعْدِ أَن نَّزغَ الشَّيْطَانُ بَيْنِي وَبَيْنَ إِخْوَتِي إِنَّ رَبِّي لَطِيفٌ لِّمَا يَشَاء إِنَّهُ هُوَ الْعَلِيمُ الْحَكِيمُ رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِن تَأْوِيلِ الأَحَادِيثِ}[يوســـف: 100 - 101]؛ (ای زما پلاره، دا دی زما د پخواني خوب تعبیر. په رښتیا سره چې الله هغه رښتیا کړ او بېشکه چې (الله) له ما سره ښېګڼه وکړه کله چې یې له زندان څخه را وایستم او تاسې یې له صـحرا څخه (دلته) راوسـتئ، وروسـته له دې چې شیطان زما او زما د ورونو ترمنځ دښمني واچوله. بېشکه چې زما رب د هغه چا لپاره چې وغواړي د نرمۍ ښـتن دی. بېشـکه چې همغه پوهېدونکی، حکمت لرونکی دی. ای زما ربه بېشـکه چې تا ماته ځواک راکړ او ماته دې د خوبو (او پېښو) د تعبیر پوهه را وښوده».

**د یتیم کفالت**

یتیمولي د انسـاني ټولني دردوونکی او غمجن حالت دی چې انسـان ورسـره مخامخ کېږي، خاصـتاً دا حالت هغه مهال لا ډېر کړاوجن او دردمن وي چې لـه متوفی څخه کوچني اولادونه پاتې وي. په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې پر یتیم د رحم کولو او له هغه سره پر ښه چلند کولو ټینګار شوی دی؛ الله تعالی فرمايي: {فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ}[الضحی، 9]؛ (بیا نو پر یتیم مه غوسه کیږه». څوک چې د یتیم سرپرستي کوي، هغه ته زېری ورکړل شوی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره به په جنت کې نږدې وي، څکه هغه فرمايي: {كَافِلُ الْيَتِيمِ لَهُ أَوْ لِغَيْرِهِ أَنَا وَهُوَ كَهَاتَيْنِ فِي الْجَنَّةِ وَأَشَـارَ مَالِكٌ بِالسَّـبَّابَةِ وَالْوُسْـطَى[61]}؛ (څوک چې د یتیم کفالت وکړي، که هغه د هغه خپل وي یا بل څوک وي، زه او هغه به په جنت کې د دې دوو په څېر یو (خپلې د شـهادت او منځنۍ ګوتو ته یې اشـاره وکړه)». د یتیم لاسـنیوی کول د پښـتو ژبې نازکخیاله شاعر حمید مومند په هنري ژبه کړی، وايي:

د هغه لستونی لاس ید بیضا وي
چې پرې وچې کاندي اوښې د یتیم[62]

چا چې د یتیم غمجن او ژړغونکی حالت په خوښــۍ بدل کړ او لاس یې پرې را کش کړ، لاس به یې د موســـی علیه السـلام «ید بیضــاء» وګرځي؛ موســـی علیه الســلام به چې په کوم ناروغ لاس راکش کړ، ورسره روغ جوړ به شو.

**د ژبې آفت**

هغه مشــهور متل دی چې: ژبه هم کلا ده هم بلا. په ډېرو نبوي ملغلرو کې راغلي چې د مسـلمان ژبه باید نرمه وي او څوک یې له امله ونه ځورول شي. په یوه حدیث شریف کې راځي چې له رسول الله څخه وپوښتل شول چې: {أَيُّ الْإِسْلَامِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ}؛ (کوم اسلام غوره دی؟ ویې فرمایل: هغه چې مسلمانان یې له ژبې او لاس څخه په امن کې وي»؛ یا چې ارشـاد یې دی: {الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ[63]}؛ (مسلمان هغه دی چې نور مسلمانان یې له ژبې او لاس څخه په امن کې وي». د ناوړې ژبې له کارولو څخه حمید مومند هم انســـان ډډې کولو ته هڅولی، چې هغه تر تېغ بدتره ده او ورسره زړونه پرې کېږي:

ژبورو ته له ژبې آفت رسي
پرېکوي د زړګي سر جلاته ژبه
چې مدام د قتل وینې ځنې څاخي
تر هغه تېغه ده بده ماته ژبه[64]

په یوه حدیث شریف کې راځي چې تر ټولو ډېر عذاب به د ژبې له امله وي. رسول الله فرمايي: {يُعَذِّبُ

اَللّٰهُ اَللِّسَانَ بِعَذَابٍ لاَ يُعَذِّبُ بِهِ شَيْئاً مِنَ اَلْجَوَارِحِ فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ عَذَّبْتَنِي بِعَذَابٍ لَمْ تُعَذِّبْ بِهِ شَيْئاً فَيُقَالُ لَهُ خَرَجَتْ مِنْكَ كَلِمَةٌ فَبَلَغَتْ مَشَارِقَ اَلْأَرْضِ وَ مَغَارِبَهَا فَسُفِكَ بِهَا اَلدَّمُ اَلْحَرَامُ وَ أُنْتُهِبَ بِهَا اَلْمَالُ اَلْحَرَامُ وَ أُنْتُهِكَ بِهَا اَلْفَرْجُ اَلْحَرَامُ وَ عِزَّتِي وَ جَلاَلِي لَأُعَذِّبَنَّكَ بِعَذَابٍ لاَ أُعَذِّبُ بِهِ شَيْئاً مِنْ جَوَارِحِكَ[65]}؛ (الله ژبې ته داسې سزا ورکوي چې هيڅ اندام ته يې نه ورکوي، نو ژبه وايي: ای زما ربه، تا ماته داسې سزا راکړه چې بل هيڅ شی ته دې نه ده ورکړې. ورته وويل شي: له تا څخه يوه خبره راووتله او د ځمکې ختيځ او لوېديځ ته ورسېده او د هغې له امله حرامه وينه توی شوه، مال لوټ شو او شرمګاه زيانمنه شوه. زما په جلال او عزت قسم، زه به تاته داسې سزا درکړم چې ستا د بدن هيڅ غړي ته مې نه ده ورکړې».

**بې کرداره وينا**

الله تعالی په خپل سپېڅلي کتاب کې مسلمان مخاطب کړی چې تاسو څه وايئ، پر هغو ولې عمل نه کوئ، فرمايي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ}[الصف: ۲- 3]؛ (ای مؤمنانو، ولې تاسې هغه (خبرې) کوئ چې (ورباندې) عمل نه کوئ. د الله په نزد د لوی قهر سبب دی هغه شی چې واياست يې او عملي کوئ يې نه». همدغه مطلب د پښتو ادب ځلاندې څېرې عبدالحميد په دې بليغو الفاظو کړی دی:

بې کرداره ګفتار محض سر درد دی
مونده نه شي د مراد مغز په دا پوچه
چې نا اهلو ته يې ښوک تر خولې وباسي
دردانه کاندي د خپلې وينا پوچه[66]

**د پوچ شعر غندنه**

پياوړی شاعر عبدالحميد وايي:

هم د نه خوړوي زړه ښوک
ډېر د پوچ شعر په کړه ښوک
ښه دي شکم له زوو ډک
نه له شعره ډک وتيک

مومند بابا ياد حکم له دې نبوي حديث څخه اخيستی چې وايي: {لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ أَحَدِكُمْ قَيْحاً خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْراً[67]}؛ (له تاسو څخه د يو کس ګېډه له زوو ډکه ښه ده تر دې چې له شعر څخه ډکه شي).

حميد بابا د پورتنی غندنې ترځنګ د ښه شعر ويل ښه کار هم بللی دی.

**پر کافرانو د مسلمانانو د برۍ راز**

د تاريخ په اوږدو کې ثابته شوې چې ډېر ځله کم شمېر مسلمانان پر ډېرو مشرکانو بريالي شوي دي چې ښه بېلګه يې د بدر غزا وه، په دې غزا کې د مسلمانانو شمېر ۳۱۳ او د مشرکانو شمېر ۱۰۰۰ تنه وو؛ خو د الله تعالی په مرسته يې بری په نصيب شو. د پښتو ادبي تاريخ د دوهمې دورې نامتو شاعر عبدالحميد همدې او دې ورته نورو پېښو ته اشاره کوي:

له زرګونو بری نه شي وړای سلګونه
مګر خواه ناخواه يې فتح ذوالجلال کا[68]

همدې موضوع ته الله تعالی داسې نغوته کړې ده: {إِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ عِشْرُونَ صَابِرُونَ يَغْلِبُوا مِائَتَيْنِ وَإِنْ يَكُنْ مِنْكُمْ مِئَةٌ يَغْلِبُوا أَلْفًا مِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَفْقَهُونَ}[الانفال: 65]؛ (که له تاسې ځينې شل کسه هوډمن (صابر) و اوسي، پر دوو سوو کسانو به بری ومومي او که له تاسې ځنې سل تنه هوډمن (صابر)

و اوسي پر زرو کافرانو به بريمن شي. د دي له امله چې دوی (داسي) قوم دی چې نه پوهېږي».

**د تقدير مسأله**

له هر انسان سره خپل تقدير موجود دی، چې څه يې په نصيب وي او څه ورپېښېږي، هغه ټول ورته په تقدير کې ليکل شوي وي. الله تعالی همدا مسأله په قرآن کريم کې څو ځايه روښانه کړې، فرمايي: {وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِمِقْدَارٍ}[الرعد: 8]؛ (او هر شی له هغه سره په ټاکلې اندازه دی»؛ {إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْأَرْحَامِ وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ مَاذَا تَكْسِبُ غَدًا وَمَا تَدْرِي نَفْسٌ بِأَيِّ أَرْضٍ تَمُوتُ}[لقمان 34]؛ (بېشکه چې د قيامت پوهه له الله سره ده او (الله) باران وروي او (الله) په هغه څه چې د ميندو په رحمونو کې روزل کېږي پوهېږي او هيڅوک نه پوهېږي چې سبا به څه کوي او هيڅوک نه پوهېږي چې پر کومه ځمکه به مړ شي». د پښتو ژبې نوميالي شاعر عبدالحميد د تقدير موضوع په لاندې بيت کې په ډېر موجز ډول بيان کړې ده:

په تدبير سره تقدير کله تغيير خوري
چې دا فکر کړم اسمان په غونډو ولم[69]

حميد په ډاګه کړې، هر چاته چې څه رسيږي، هغه يې خپل عمل دی چې اوس ورسره د لارې مل دی، وايي:

نه يې زيد په ما، (کاندي) نه يې عمرو
زه په خپله په خپل ځان کړم جور و ظلم
چې په ما دي هم له ما دي همه واړه
زه يې نه ګڼم له بله په خپل علم[70]

الله تعالی هم فرمايي: {كُلُّ نَفْسٍ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ}[المدثر: 38]؛ (هر څوک د خپلو کړنو په بدل کې ګرو دی». د همدې آيت مفهوم په پورتنيو بيتونو کې په ښکاره ليدل کېږي.

د پښتو ادب د ځانګړي مکتب خاوند مومند بابا دغه راز انسان دې ته متوجه کړی، چې څه دې کړلي، همغه به ربېي، نه دا چې په پټي کې دې وربشي کرلي وي او تمه د غنمو ترې کوې:

چې کرلي دې اوربشي د عمل دي
بيا به نه مومي غنم په اخسته[71]

* * *

ځان ته ښه وايي ښه نه کړي
هغه څه وايي دا څه کړي
له اوربشو غنم غواړي
ښه به هاله شي که ښه کړي[72]

الله تعالی په خپل کلام کې فرمايي: {إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ مَنْ أَحْسَنَ عَمَلًا}[الكهف، 30]؛ (موږ د هغه چا اجر چې ښه کار يې کړی دی، نه ضايع کوو»؛ که دې ښه کړي وي، ښه به درسره وشي.

**د مرګ څکه حتمي ده**

عربي شاعر ابو فراس حمداني وايي: (وَكُلُّ الَّذي فَوقَ التُرابِ تُرابِ)؛ يعني: هر څه چې د دې خاورې پر سر دي، هغه خاوره ده.

انسان چې دې نړۍ ته سترګې غړوي، هرومرو يو وخت داسي هم پرې راځي چې سترګې پټوي او له دې نړۍ به رخصتيږي. الله تعالی فرمايي: {كُلُّ نَفْسٍ ذَائِقَةُ الْمَوْتِ} [آل عمران: 185]؛ (هر نفس د مرګ څکونکی دی). همدارنګه الله تعالی په النساء سورت کې فرمايي: {أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكُكُمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي

بُرُوجٍ مُشَيَّدَةٍ}[النساء: 78]؛ (هر چېرته چې و اوسئ مرګ تاسي ته رسيږي که څه هم په محکمو کلاګانو کي يأست». د پښتو ادب نازکخياله شاعر د مرګ تصوير په دې بيتونو کي وړاندې کړی دی:

د دنيا له سرايه تله دي له ارمانه

که پنځه کاله ژوندون وي که پنځوس[73]

**د الله تعالی او د هغه د نازولي پيغمبر ستاينه**

زړه مي ستا په لور بېمار دی زما ربه

منتظر ستا د ديدار دی زما ربه

واويلا ځني صبر و آرام يو وړه

شپه و ورځ ډېر ناقرار دی زما ربه

يو پيشوا مي بې رسوله بل څوک نشته

چي په تا باندې رويدار دی زما ربه

چي د ستا، ستا د رسول ډېره مرضي وي

هم هغه زما روزګار دی زما ربه

امر و نهي په رسول تا راستولي

دا تصديق مي په اقرار دی زما ربه

برابر مي موافق لرې په شرع

چي قبول مي دغه بار دی زما ربه....

د رسول په روی بخښنه حميد غواړي

د همه واړه سردار دی زما ربه[74]

* * *

چي حضرت راوړی دين دی، زما دين دی

که مي مړ په دا وينا کړې زما ربه

هر چي ستا ستا د رسول په کي مرضي وي

هغه کار شغل زما کړې زما ربه[75]

په پورتنيو لومړيو بيتونو کي د الله تعالی د ديدار ارمان شوی، بيا د اسلام د ستر پيغمبر په اړه راغلي چي هغه مو مرشد او لارښود دی، هغه څه چي يې ويلي، هغه مو منلي دي. په پای کي يې د الله تعالی له لوی درباره يې غوښتنه کړې چي په شرعه يې برابر لرې او د بخښلو لپاره يې د کايناتو سردار شفيع ګرځولی دی.

الله تعالی په خپل کلام کي د رسول الله صلی الله عليه وسلم په اړه پورتني مفاهيم څرګند کړي: {لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِمَنْ كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ وَذَكَرَ اللَّهَ كَثِيرًا}[الاحزاب: 21]؛ (بېشکه چي د الله رسول تاسي ته د ښو کړنو بېلګه ده. د هغه چا لپاره چي هيله يې الله او د آخرت ورځ ده او الله ډېر يادوي». بل ځای فرمايي: {وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى}[النجم: ۳- ۴]؛ (او له خپلې نفسي غوښتني څخه نه غږيږي. نه دی دغه (قرآن) خو وحي چي (ورته) لېږل‌کيږي».

حميد پر رسول الله درود ويلو ته په اشارې سره وايي:

نور څه نه ستايي حميد بې ښکلي مخه

روا نه دی بې نبي په چا درود[76]

پورتنی مطلب په دې حديث شريف کي راغلی: {مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ عَشْرًا[77]}؛ (چا چي په ما يو ځل درود ووايه، الله به پر هغه لس ځله درود ووايي. دلته د مومند هدف د حديث ټکي په ټکي معنا نه ده).

**الله تعالی ته رجوع او التجاء**

حمید بابا خپل ځان ته د قناعت ورکولو، د حرص و هوا ختمولو، صبر کولو، له بېهوده کلام ویلو څخه د ځان ساتلو، په شرع برابرولو او له ښویېدو څخه د نجات ورکولو دعاء کړې ده:

قناعت راته عطا کړې زما ربه
ورک زما حرص و هوا کړې زما ربه
دا سرکښ نس مې سرکوزی کړې په صبر
راته اېله دا بلا کړې زما ربه....
نور مې وساتې زبان له پوچ ګویې
په خپل وصف مې ګویا کړې زما ربه
که رضا د ستا په سر و په مال مومم
ژر مې سازه دا سودا کړې زما ربه
دم قدم زما سیده لرې په شرع
له لغزشه مې نجا کړې زما ربه[78]

پورتنۍ دعاء د دې آیت مصداق دی چې: {رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا}[البقرة: 286]؛ (ای زموږ ربه، که موږ ستا حکم هېر کړو یا مو تېروتنه وکړه، موږ مه نیسه، ای زموږ ربه، پر موږ هغسې بار مه ږده لکه چې تر موږ پر پخوانیو دې ایښی و. ای زموږ ربه، محوه کړه (ګناهونه) له موږ، موږ وبخښه او پر موږ رحم وکړه».

بل ځای هم د پښتو ژبې دغه سندربول، الله تعالی ته التجاء کوي:

زه له څخه وېرېږم خپله ربه
ستا له قهره ډېر لړزېږم خپله ربه
شپه و ورځ که ستا ثنا کړم موږ به نه شم
د بلبل په شان وېږم خپله ربه
شپه و ورځ راسره فکر د دې چارې
په ژړا درته ژړېږم خپله ربه
په قیامت به درته غټ کتلای نه شم
وایم زه له تا شرمېږم خپله ربه[79]

پورتنیو بیتونو کې سید الاستغفار ته اشاره ده چې بنده یې تل باید ووایي. رسول الله د دغه استغفار عبارات داسې ښودلي: {اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لَا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ[80]}؛ (ای الله! ته زما رب پالونکی یې، له تا څخه پرته بل معبود نشته، تا زه پیدا کړی یم او زه ستا بنده یم او زه د خپل وس په ورانده ستا پر ژمنه او وعده ولاړ یم. زه په تا باندې د هغه څه له شر څخه پناه غواړم چې ما کړي دي. زه ستا پر هغو نعمتونو اعتراف کوم چې پر ما دې کړي دي او په خپلو کړو ګناهونو اقرار کوم، نو ته ماته زما ګناهونه وبخښه، ځکه چې له تا څخه پرته بل هیڅوک داسې نشته چې د ګناهونو د بښنې واک او ځواک ولري».

* * *

دغه راز مومند په خپلو شعرونو کې د قرآن کریم ځینې برخې او د حدیثونو ټوټې راوړې دي، لکه:

باري خلاص «نعوذ بالله منها» کړه
هم «ولا حول ولا قوة» رها کړه

په پورتني بيت کي مومند د نيرنګ عشق د قصي په يوه برخه کي د شاهد د ښايست او ښکلا په اړه غږيږي او د هغه ښکلا او ښايسته فتنه ګني، ځکه چي هر څوک يې ويني نو زړه پرې بايلي آن تر دې د وخت قاضي هم خپل ځان نه شي ترې ساتلی. پورته شاعر د قاضي په ژبه غږېدلی دی. په دې بيت کي «نعوذ بالله منها[81]» او «ولا حول ولا قوة[82]» په اصل کي د حديثونو توتې دي[83].

دغه راز کاږي:

«ان کنتم تحبون الله» ګوره
«من اطاع» مصور کړه حد يې ژغوره

په دې بيت کي «إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ» د سورت آل عمران د ۳۱ آيت يوه برخه ده او «من اطاع» د يوه حديث د متن برخه ده.

بل ځای هم وايي:

«لا احصي ثناء» د حبر عذر خواهي کړه
په دا خپل کوتاهي د لارې کوتاهي کړه

مومند دلته د حديث يوه توته کارولې، «لا أحصي ثناء عليک[84]»؛ (زه نه شم کولای چي ستا حق په هغه ډول ادا کړم چي ته يې مستحق يې)[85].

په پورتنيو کرښو کي د حميد بابا هغه شعرونه راوړل شوي چي د ده په کلياتو کي راغلي دي.
اوس د نومړي د يوه فقهي کتاب ژباړې ته چي **«شرعة الاسلام»** نوميږي، سر ور ښکاره کوو.

پوهاند رشاد ليکي: «د شرعة الاسلام منظوم عربي متن په يوه جلد کښي يو مرغوب کتور او نفيس اثر دی چي د حضرت سيد المرسلين صلی الله عليه وسلم سنن په ډېره پښته ژبه پکښي څېړل شوي دي، مؤلف يې د بخارا مفتي امام الواعظ رکن الاسلام محمود بن ابي بکر الحنفي دی چي په (امازاده) اوښار او په ۵۷۳ هـ. ق کال مړ دی». لومړی وړه شرحه يحيی بن يخشی بن ابراهيم الرومي الحنفي پرې ليکلې ده چي په ۸۴۰هـ. ق يا ۹۰۰هـ. ق کال مړ دی، دوهمه شرحه يې (مفتاح الجنان او مصابيح الجنان) نومي د يعقوب بن سيدي علي الرومي الحنفي اثر دی چي په ۹۳۱هـ. ق کال مړ شوی دی. درېيمه او تر ټولو لويه شرحه يې (مرشد الانام الی دارالسلام لشرح شرعة الاسلام) نومي محمد بن عمر الرومي چي په (قور دافندي) اوښار او په ۹۹۶هـ. ق کال مړ دی، ليکلې ده. دا کتاب په پارسو هم ترجمه شوی دی. پښتو ترجمه يې چي د حميد مومند په غښتلي قلم ليکلی شوې ده، په پښتو تبليغي آثارو کي د ادبي نفاست له مخي هسکه درجه لري[86].

دی زياتوي، د حميد مومند شرعة الاسلام د کميت په لحاظ د ده تر ټولو څرګندولو آثارو لوی او ضخيم اثر دی، بلکي که ووايو چي د حميد مومند دري سره څرګند آثار يعني در ومرجان، شاه وګدا او نيرنګ عشق په مجموعي توګه د دې اثر نيمايي برخه نه ده، مبالغه به نه وي، ځکه چي دا اثر تخميناً پنځلس زرو بيتونو ته رسيږي او در و مرجان تر ۲۹۰۰، شاه ګدا تر ۱۹۰۰ او نيرنګ عشق تر ۱۷۰۰ بيتو زيات نه دی چي د ټولو مجموعه (شپږ نيم زره) بيتونه کېدای شي. د «شرعة الاسلام» پښتو منظومه ترجمه موشګاف عبدالحميد د ۱۱۴۸هـ. ق د کوچني اختر په شپږ ويشتمه پای ته رسولې ده[87].

څو نمونې يې دا دي:

| | |
|---|---|
| ثابت شوي په سنت دي | يقيني په خپل زينت دي |
| دا دي واوره درته وايم | عربي په پښتو نمايم |
| چي يوه ورځ جبرائيل | و حضرت ته کړو ويل |
| وې يې وايه پيغامبره | دم قدم خدای ته رهبره |
| اسلام څه دی ايمان څه دی | احسان څه دی امان څه دی |
| ده دا رنګ جدا جدا | که جواب د سوال ادا |
| چي بنده ښبتن غني | په يکي وپيژني |

دا ګواهي کا په زړه لیکه — چي خدای یو دی بي شریکه
ازلي و لا یزال دی — هر صفت یي په کمال دی[88]

* * *

په دا فصل کښي لالنه — زده کړه ته د دین پالنه
په هر کار کښي خدای لره — خالص نیت په ځان لره
چي بی نیته عمل هیڅ دی — لا که وایي د ځان پیڅ دی
چي حجت په دا کمال دی — حدیث «انما الاعمال» دی[89]

* * *

جنازې ته دي ډېر کسي — چي ترې پند و عبرت نسي
جنازه د دي دپاره — وراندي وړه شي نېک و پاره
بل د کور له جنازه — تېزه وړي په اندازه
نه په ډچکي نه په زغاسته — مرده راست وي که ناراسته
ښه په سر پورې د مړي — د الحمدُ لوست نومړي
الف لم ذلک دورې — تر هم «المفلحون» پورې
په سر پورې د مرده — لوست دي ښه په ښه کرده[90]

* * *

**پته خوله**

افضل خوی د مومنانو — خاموشي ده امینانو
خزانه بخره په کس کښي — وي د چپي خولې په وس کي
له خبرو شي ببرې — د فتنو او دی بمبرې
له خبرو کسل بلا — ولاړیږي واویلا
لوی هنر ده خاموشي — کا د عیب پرده پوشي
ګفتګوی تر شرافت — لري ډېر شر و افت
له اوله دي ځوک هیڅ — نه وایي چي لري پیڅ[91]

* * *

کړه په حق د همسایه کي — زده دا فصل په یانه کي
چي لري لویه پایه — خصمانه د همسایه
غنیمت ښه نزدیکت دی — ورسره ډېر برکت دی[92]

په پورتنیو څو بېلګو کې روښانه لیدل کېږي چې «شرعة الاسلام» کې د دین اساسات او فقهي مسایل بیان شوي دي چې دا کار د حمید بابا له خوا په خوږه او روانه پښتو را ژباړل شوي او بیان شوي دي.

دوست شینواری کاږي: شرعة الاسلام د حمید مومند په اشعارو کې هم د کیفیت او هم د کمیت له مخې مهم ځای لري. د کیفیت له مخې په دغه اثر کې چې آزاده ترجمه ده او خپله د حمید نظر په کې مهم ځای لري داسې نوي موضوعات شته چې د حمید په نورو آثارو کې نه دي درج. لکه یو عالم اجتماعي روابط، طبي مسایل او کلتوري بحثونه. د کمیت په لحاظ د حمید په ټولو آثارو کې دغه کتاب لومړی مقام لري[93].

په دې کتاب کې لکه له نامه یې چې ښکاري اسلامي اخلاقو کړو وړو، خبرو، فکر کولو، ټولنیزو ادابو په لاړو چارو بحث شوی. په دې کتاب کې ډېرې داسې مسألې شته چې هغه زموږ په اجتماعي ژوند کې هر وخت او هره ورځ حیاتي ارزښت لري[94].

ښېرنپوه دوست شینواري او ښېړندوی محمد آصف صمیم دواړه یاد شوی اثر دیني کتاب بولي؛ دوست لیکلي: «د حمید مومند دغه شرعة الاسلام یو دیني، اجتماعي، اخلاقي کتاب دی[95]». صمیم هم کښلي:

«شرعة الاسلام د موضوع له پلوه تر هنري زيات فقهي او ديني دی[96]».
د حميد بابا د «شرعة الاسلام» پورتنيو بېلګو او هم د څېړونکو تحقيقاتو په کتلو سره ويلی شو چې د دې اثر منځپانګه ديني مسايل تشکيلوي چې دا په پښتو کې د اسلامي ادب د پانګې پر زياتېدو سربېره د دې ژبې ويونکو ته يې ديني او خاصتاً فقهي مسايل په اسانه ژبه بيان کړي دي.
د پښتو ادب د دې سرلارې له آثارو او شعرونو څخه له ورايه ښکاري چې ده د هغه وخت متداول اسلامي او ديني علوم لوستي وو او پرې برلاسی و او په همدې خاطر مورږ دی د يوه ديني عالم په توګه هم پېژندلی شو. په ځينو آثارو کې نوموړي ته «ملا» ويل شوی، لکه پوهاند رښتين چې ليکي: «عبدالحميد مومند د دولسمې پېړۍ د اولې برخې خورا مشهور نوميالی اديب او شاعر دی. دی ښه ملا هم و او طالبانو ته به يې تدريس کاوه[97]». «د پښتو ادبياتو تاريخ منځنۍ دوره» اثر کې هم راغلي: «که څه هم حميد يو ملا شاعر و خو بيا هم هغه د ټولنې په عيني او ذهني چاپېريال کې ژوند کړی دی[98]».
اکاډميسين دکتور سيد محی الدين هاشمي د حميد بابا په اړه وايي: «ځينو شاعرانو چې د ده يادونه کړې، نو ملا عبدالحميد يې ورته ويلې او چې د ده د ديوان قلمي نسخه چېرته پيدا شوې، «ملا عبدالحميد» يې پرې ليکلی دی، د کلاسيکې دورې د شعرونو په منتخباتو، لکه «بهار نوروزي(؟)» کې يې هم ورته ملا عبدالحميد کښلی دی، خو د «مولوي» خطاب ورته نه دی شوی[99]».
د حميد مومند د اشعارو يو لوی خصوصيت دا دی چې هغه د ټولنې له ښه بد سره مستقيمه رابطه لري او د پندونو او وعظونو په څنګ کې داسې اشعار هم لري چې هغه د ټولنې هر وګړي ته داسې اجتماعي لارښودنه کوي چې اساس يې په کار باندې بنا وي[100].
د حميد مومند له اشعارو څخه جوتېږي چې ده د کتاب الله او سنت رسول پوره مطالعه لرله او ځان يې پرې ښه پوه کړی و، همدا لامل دی چې له قرآن کريم او نبوي احاديثو څخه په اغېزمنتيا يې قرآني ارشادات او نبوي مرغلرې د خپل کلام د تقويې او مستند کولو لپاره راوړي دي. او د خپل کلام ادبي چاپېريال ښايسته کړی دی. دغه کار يې په ښو لارو کړی، کله يې د هغو کُلي مفهوم بيان کړی او کله يې هماغه هوبهو قرآني او نبوي الفاظ کارولي او په دې سره يې خپل هنري کلام ته اسلامي او ديني پيوندونه ورکړي دي.
د عربي نړۍ مشهور نقاد دکتور شوقي ضيف ليکلي: نبوي حديثونه با ارزښته خزانه ده چې تل اديبانو او شاعرانو په خپل نثري او شعري کلام کې کارولي او خپل کلام ته يې ښکلا او ښايسته وربخښلې ده او دا کار تر نن ورځ پورې دوام لري. بل ليکوال محمد العجاج الخطيب هم کاږي: د اسلامي نړۍ اديبانو او شاعرانو د نبوي حديثونو لوري ته مخه کړه او هغه يې د خپلو ادبي کړنو لپاره د لارې رڼا وګرځوله او د ژوند آداب او اخلاقيات يې ترې واخيستل، ځکه چې دوی په دې پوهېدل چې د انسانيت د بريا او کاميابۍ راز الله پاک په همدې کې نغښتی دی. د کابل پوهنتون استاد يار زمان منګل وايي: نبوي سنت چې د اسلامي شريعت دويم مصدر او بنسټ ګڼل کېږي، هيڅ مسلمان له هغې سترګې نه شي پټولی، نو مومند هم په خپل وار له قرآن کريم څخه وروسته نبوي احاديث زده کړل او عمل يې پرې وکړ، آن تر دې چې نورو ته يې ور وښودل او خپل ادبي چاپېريال يې پرې ښايسته کاوه او د اړتيا په وخت کې يې پرې خړوباوه، د هغې معناګانې او کلمات يې په کلام کې وکارول، له نبوي سنتو څخه يې اقتباس وکړ او هغه يې تفسير کول او د خپلو عواطفو او احساساتو په انځورولو کې يې ترې استفاده وکړه او خپل فکري دريځونه يې د حديثو په رڼا کې واضح کړل، نو له همدې امله د پيغمبر صلی الله عليه وسلم سنتو ته د مومند رجوع او ورګرځېدنه د نوموړي د شاعرۍ د ځلانده اړخونو مهمه برخه وګرځېده[101].
دی زياتوي: اديبان او شاعران تل د خپلو خبرو او مطالبو د تقويې لپاره حديثو ته مراجعه کوي، هغه معناګانې ترې اخلي چې د دوی کلام ته قوت او غښتلتيا وربخښي، په ځانګړي ډول دوی تل د اسلامي تربيې په برخه کې خپل کلام د حديثونو په زېور ښايسته کوي.
مومند هم د يوه مسلمان اديب او شاعر په توګه د اسلامي تګلارې پيروي د خپل ځان لپاره اړينه بللې

او هغو بنسټونو ته يې بلنه ورکړې چې د اسلام مبارک دين غوښتنه وه، د نوموړي په شاعرۍ کې د نبوي حديثونو شتون په دغه خبره کره دليل دی، په ډېرو ځايونو کې مومند مکمل حديثونه راوړي او استدلال يې پرې کړی دی او همدارنګه په ډېرو ځايونو کې يې د حديثو پښتو ژباړه راوړې ده ترڅو خپل لوستونکي پرې وپوهوي او خپل دريځ يې پرې پياوړی کړی دی. سربېره پر دې مومند صاحب د حديثو فني او هنري کارونه هم کړې ده او په هکله يې خپل استعداد په ډاګه کړی دی، همدارنګه يې خپل فرهنګ لا ډېر د حديثونو په راوړلو بډای کړی دی[102].

## پايله

پوهاند استاد عبدالحی حبيبي ليکي، که څه هم د حميد مومند په وينا کې عشقي او بزمي رنګ غالب دی، مګر بيا هم اخلاقي او اجتماعي مضامين کله کله وايي او کلام يې مؤثر او مبرهن ښکاري[103]. د استاد د خبرو په دوام د پښتو ژبې دغه پياوړی اديب او شاعر د يوه مسلمان او په تېره د يوه ملا په توګه د اسلام پر اساساتو چې قرآن کريم او احاديث دي، ځان پوه کړی، په غور يې لوستي او بيا يې له هغو څخه په تأثر اخيستلو سره د شعر په ژبه بيان کړي دي.

په پای کې د الله تعالی لوی دربار ته لاس لپه کوم چې عبدالحميد مومند ته له کړو سهوو او ګناهونو ور تېر شي، ويې بخښي او په خپلو خوږو اشعارو کې د قرآن کريم او نبوي احاديثو په رڼا کې د اسلامي مسايلو د څرګندولو او تبليغولو له امله دې يې قبر منور او جنت ته د ننوتلو باعث وګرځوي. آمين

## حوالي

قرآن کريم.

يادونه: په دې څېړنه کې چې د قرآن کريم له آيتونو څخه استفاده شوې، هملته ورسره په څنګ کې د سورت نوم او د آيت شمېره راغلې ده.

1 مطيع الله روهيال. په لمنليک کې وضاحتونه، عبدالحی حبيبي. پښتانه شعراء (بشپړ متن)، لومړی ټوک، تصحيح او زياتونې: مطيع الله روهيال، ۱۹۵ مخ.

2 معتمد جنتي. عبدالحميد مومند د نورو په نظر کې، د عبدالحميد مومند ياد، د پښتو څېړنو بين المللي مرکز، تدوين او ترتيب: ز. هـ. دولتي مطبعه، ۱۳۶۶ل، ۶۲ مخ.

3 پورتنی مأخذ، ۶۳ مخ.

4 عبدالحميد مومند. د عبدالحميد مومند کليات، مدون: محمد آصف صميم، دانش خپرندويه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۶ل، ۲۸ مخ.

5 د عبدالحميد مومند کليات، ۱۶۰ مخ.

6 د عبدالحميد مومند کليات، ۲ مخ.

7 د عبدالحميد مومند کليات، ۹ مخ.

8 د عبدالحميد مومند کليات، ۱۲ مخ.

9 محمد بن عيسى أبو عيسى الترمذي السلمي. الجامع الصحيح سنن الترمذي، دار إحياء التراث العربي – بيروت، تحقيق : أحمد محمد شاكر وآخرون، د حديث شمېره: 2459.

10 د حميد مومند په شعر کې د ده د عصر د ټولنيز ژوند څېره، ۱۲۴ مخ.

11 پورتنی مأخذ، ۱۲۷ مخ.

12 د عبدالحميد مومند کليات، ۱۹۵ مخ.

13 د عبدالحمید مومند کلیات، ۷۵ مخ.
14 د عبدالحمید مومند کلیات، ۲۲۰ مخ.
15 په پښتو ژبه د قرآن کریم د معانیو ژباړه او تفسیر، د افغانستان د علماؤ علمي هیئت، لومړی ټوک، په مدینه منوره کې د قرآن کریم د چاپ لپاره د پاچا فهد چاپخانه، ۵۱۶ مخ.
16 د عبدالحمید مومند کلیات، ۲۱ مخ.
17 دولت محمد لودین. د حمید مومند په شعر کې د ده د عصر د ټولنیز ژوند ځېره، د عبدالحمید مومند یاد، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، تدوین او ترتیب: ز. هـ. دولتي مطبعه، ۱۳۶۶ل، ۱۳۲ مخ.
18 د عبدالحمید مومند کلیات، ۱۹ مخ.
19 د عبدالحمید مومند کلیات، ۷۹ مخ.
20 پورتنی مأخذ، ۱۲۳ مخ.
21 مخکینی مأخذ، ۲۴۷ مخ.
22 د عبدالحمید مومند کلیات، ۱۹۳ مخ.
23 محمد بن عیسی أبو عیسی الترمذي السلمي. الجامع الصحیح سنن الترمذي، دار إحیاء التراث العربي – بیروت، د حدیث شمېره: 625.
24 د حمید مومند په شعر کې د ده د عصر د ټولنیز ژوند ځېره، ۱۱۸ مخ.
25 پورتنی مأخذ، ۳ مخ.
26 مخکینی مأخذ، ۳ مخ.
27 همدا مأخذ، ۱۳۷ مخ.
28 د عبدالحمید مومند کلیات، ۲۰۵، ۲۰۶ مخونه.
29 پورتنی مأخذ، ۵۳ مخ.
30 مخکینی مأخذ، ۷۹ مخ.
31 همدا مأخذ، ۱۹۰ مخ.
32 پورتنی مأخذ، ۱۲۲، ۱۲۳ مخونه.
33 د عبدالحمید مومند کلیات، ۷ مخ.
34 محمد آصف صمیم. گام پر گام له خوشال سره، دویم چاپ، مومند خپرندویه ټولنه، جلال آباد، ۱۳۸۶ل، ۱۱۴ مخ.
35 مخکینی مأخذ، ۲۸ مخ.
36 مخکینی مأخذ، ۲۷ مخ.
37 همدا مأخذ، ۲۷ مخ.
38 د عبدالحمید مومند کلیات، ۱۵۷ مخ.
39 پورتنی مأخذ، ۱۵۷۸ مخ.
40 همدا مأخذ، ۱۲۵ مخ.
41 الجامع الصحیح سنن الترمذي.
42 مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشیري النیسابوري. صحیح مسلم. د حدیث شمېره: 4650.
43 د عبدالحمید مومند کلیات، ۱۳۷ مخ.
44 د عبدالحمید مومند کلیات، ۶۹ مخ.
45 أبو داود سلیمان بن الأشعث السجستاني، سنن أبي داود، دار الکتاب العربي ـ بیروت، ج4، 102 مخ.
46 د عبدالحمید مومند کلیات، ۷۰ مخ.
47 د عبدالحمید مومند کلیات، ۶۹ مخ.
48 أبو بکر أحمد بن الحسین البیهقي. شعب الإیمان، دار الکتب العلمیة – بیروت، لومړی چاپ، ۱۴۱۰ق.
49 الجامع الصحیح سنن الترمذي، د حدیث شمېره: 2515.
50 د عبدالحمید مومند کلیات، ۱۲۴ مخ.
51 پورتنی مأخذ، ۲۳ مخ.
52 مخکینی مأخذ، ۱۲۴ مخ.
53 أحمد بن حنبل أبو عبدالله الشیباني. مسند الإمام أحمد بن حنبل، مؤسسة قرطبة – القاهرة، د حدیث شمېره: 23536.
54 أبو الولید محمد بن عبد الله بن أحمد بن محمد بن الولید بن عقبة بن الأزرق الغساني. أخبار مکة وما جاء فیها من الأثار، دار الأندلس للنشر – بیروت.
55 د حمید مومند په شعر کې د ده د عصر د ټولنیز ژوند ځېره، ۱۲۸ مخ.
56 د عبدالحمید مومند کلیات، ۴ مخ.
57 پورتنی مأخذ، ۱۳۷ مخ.
58 مسند الصحابة في الکتب التسعة. د حدیث شمېره: 2628.
59 د عبدالحمید مومند کلیات، ۲۹ مخ.
60 د عبدالحمید مومند کلیات، ۴۹ مخ.
61 مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشیري النیسابوري. صحیح مسلم. د حدیث شمېره: 5296.
62 د عبدالحمید مومند کلیات، ۱۲۹ مخ.
63 أبو داود سلیمان بن الأشعث السجستاني. سنن أبي داود، دار الکتاب العربي ـ بیروت، د حدیث شمېره: 2483.
64 د عبدالحمید مومند کلیات، ۱۵۴ مخ.
65 https://hadith.inoor.ir/fa/hadith/105732.

66 د عبدالحمید مومند کلیات، ۱۶۴ مخ.
67 صحیح البخاري. د حدیث شمېره: ۵۶۸۸.
68 پورتنی مأخذ، ۲۳ مخ.
69 د عبدالحمید مومند کلیات، ۱۲۶ مخ.
70 پورتنی مأخذ، ۱۲۶ مخ.
71 همدا مأخذ، ۱۵۸ مخ.
72 مخکینی مأخذ، ۲۲۵ مخ.
73 د عبدالحمید مومند کلیات، ۸۰ مخ.
74 د عبدالحمید مومند کلیات، ۱۵۱ مخ.
75 پورتنی مأخذ، ۱۵۱، ۱۵۲ مخونه.
76 مخکینی مأخذ، ۵۶ مخ.
77 صحیح مسلم، د حدیث شمېره: ۴۰۸.
78 د عبدالحمید مومند کلیات، ۱۵۱، ۱۵۲ مخونه.
79 پورتنی مأخذ، ۱۵۳ مخ.
80 أبو بكر أحمد بن الحسين البيهقي. شعب الإيمان – البيهقي، دار الكتب العلمية – بيروت، لومړی چاپ، 1410ق، د حدیث شمېره: 667. دا حدیث په صحیح بخاري کې هم راغلی دی.
81 صحیح البخاري، د حدیث شمېره: ۲۳۴۰.
82 صحیح مسلم، د حدیث شمېره: ۲۰۷۷.
83 یار زمان منګل، د عبدالحمید بابا پر کلام د نبوي احادیثو اغېز، کابل پوهنتون، بهرنیو ژبو او ادبیاتو پوهنځي مجله، ۲مه ګڼه، ۱۳۹۵ل کال، ۱۰- ۱۱ مخونه.
84 صحیح مسلم، ګڼه: ۴۸۶.
85 پورتنی مأخذ، ۳ مخ.
86 عبدالشکور رشاد. د حمید شرعة الاسلام، د عبدالحمید مومند یاد، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، تدوین او ترتیب: ز. هـــــ. دولتي مطبعه، ۱۳۶۶ل، ۳ مخ.
87 پورتنی مأخذ، ۲ مخ.
88 عبدالحمید، شرعة الاسلام، څېړنه او زیار د عبدالکریم عامر، پښتو څېړنه (بورې) لورالائي: لاهور، ۲۰۱۹م، ۵۲ مخ.
89 پورتنی مأخذ، ۶۶ مخ.
90 مخکینی مأخذ، ۵۱۰ مخ.
91 عبدالشکور رشاد. د حمید شرعة الاسلام، د عبدالحمید مومند یاد، ۴- ۵ مخونه.
92 دوست شینواری، د حمید مومند پر شرعة الاسلام اثر سریزه، د دوست شینواري په زیار، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو بین المللي مرکز: کابل، ۱۳۶۶ل، ث مخ.
93 پورتنی مأخذ، أ مخ.
94 مخکینی مأخذ، ث مخ.
95 همدا مأخذ، ب مخ.
96 محمد آصف صمیم. د عبدالحمید مومند کلیات، سریزه، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۱۳۸۶ل، لس مخ.
97 صدیق الله رښتین. پښتو ادب تاریخ، څلورم چاپ، مومند خپرندویه ټولنه: جلال اباد، ۱۳۹۱ل، ۱۳۲ مخ.
98 زیور الدین زیور. د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنی دوره، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز: ۱۳۸۶ل، ۲۶۳ مخ.
99 سید محی الدین هاشمي. شفاهي وینا.
100 پورتنی مأخذ، ۲۷۱ مخ.
101 یار زمان منګل، د عبدالحمید بابا پر کلام د نبوي احادیثو اغېز، کابل پوهنتون، بهرنیو ژبو او ادبیاتو پوهنځي مجله، ۲مه ګڼه، ۱۳۹۵ل کال، ۳ مخ.
102 پورتنی مأخذ، ۴ مخ.
103 عبدالحی حبیبي. پښتانه شعراء (بشپړ متن)، لومړی ټوک، تصحیح او زیاتونې: مطیع الله روهیال، ۱۹۴ مخ.